شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**له ګناهونو څخه ځان ساتل**

ابن شبرمه رحمه الله ويلي دي: زه د خلکو حال ته حيران يم، چي له ناروغۍ څخه د وېري له کبله له خوړو څخه ځان ساتي، خو د اور (دوزخ) له وېري څخه له ګناهونو ځان نه ساتي. [سير اعلام النبلاء (۳۴۸/۶)]

**خود داری از گناهان**

ابن شبرمه رحمه الله فرموده است: من تعجب می کنم بر حال مردم که از ترس مصاب شدن به امراض از غذا دوری می جوید، ولی بخاطر رهایی از آتش (جهنم) از گناهان دوری نمی کند.[ سير اعلام النبلاء (۳۴۸/۶)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

شنبه| د شعبان المعظم ۱-۱٤٤٦ل س/ د سلواغې ۱۳-۱٤۰۳ل ل/ د فبروري ۱-۲۰۲۵ز/څلورم کال / ۱۳۱ ګڼه/ ٤ مخيزه



## سرمقاله

### خطرات مالی و راهکار ها برای مدیریت آن

یکی از مفاهیم که عموماً در بازار های مالی مورد استفاده قرار می گیرد، خطر مالی است. خطر (ریسك) مالی به احتمال وقوع ضرر یا کاهش درآمد در فعالیت‌های مالی اشاره دارد. در دنیای مالی، شناسایی و مدیریت خطرات برای حفظ ثبات و موفقیت کسب‌وکارها و سرمایه گذاران از اهمیت بالایی برخوردار است. سرمایه گذاری در بازار سرمایه، نیاز به بررسی ریسك مالی دارد تا با خطرات احتمالی که سرمایه را تهدید می‌کنند، آشنایی پیدا شود. ریسك در بازارهای مالی انواع مختلفی دارد و به مفاهیم گسترده‌ای اشاره می‌کند.


یکی از ریسك های مالی، ریسك بازار است که به تغییرات ناگهانی در قیمت دارایی ها اشاره دارد. این تغییرات می‌توانند ناشی از عوامل اقتصادی، سیاسی یا اجتماعی باشند. ریسك اعتباری که به احتمال عدم توانایی یك طرف قرار داد در انجام تعهدات مالی خود اشاره دارد، یکی از ریسك های مالی به حساب می رود. این نوع ریسك معمولاً در زمینه وام‌ها و تسهیلات اعتباری مشاهده می‌شود. برای مثال، اگر یك شرکت نتواند به موقع وام خود را پرداخت کند، اعتبار دهنده ممکن است دچار ضرر شود. ریسك نقدینگی نیز از جمله ریسك های مالی است که به احتمال عدم توانایی یك شرکت در تبدیل دارایی‌های خود به نقد اشاره دارد. این موضوع می‌تواند به دلیل عدم وجود خریدار مناسب یا شرایط نامساعد بازار اتفاق بیفتد. عدم دسترسی به نقدینگی می‌تواند توانایی شرکت برای انجام تعهدات مالی را تحت تأثیر قرار دهد. دیگر می توان از ریسك عملیاتی به عنوان ریسك مالی نامبرد که به خطراتی اشاره دارد که ناشی از نقص‌های داخلی در فرآیندها، سیستم‌ها یا افراد است. این نوع ریسك می‌تواند شامل خطاهای انسانی، نقص‌های تکنولوژیکی یا کلاهبرداری باشد. برای مثال، یك نقص در سیستم‌های (IT) می‌تواند منجر به از دست دادن داده‌ها و ضرر مالی شود. و ریسك سیستماتیك به نوبه خود، ریسکی است که نمی‌توان آن را از طریق تنوع سرمایه‌گذاری کاهش داد. این نوع ریسك به عوامل کلان اقتصادی مانند رکود، تورم یا بحران‌های مالی مربوط می‌شود. برای مثال، بحران مالی جهانی در سال (۲۰۰۸) نمونه‌ای از ریسك سیستماتیك است. در کنار آن از ریسك غیرسیستماتیك که به عوامل خاص یك شرکت یا صنعت مربوط می‌شود و می‌توان آن را با تنوع سرمایه‌گذاری کاهش داد نیز از ریسك های مالی است. برای مثال، یك مشکل خاص در یك شرکت خاص می‌تواند بر قیمت سهام آن تأثیر بگذارد، اما بر بازار کلی تأثیری نگذارد و در نهایت ریسك ارزی به نوسانات نرخ ارز اشاره دارد که می‌تواند بر ارزش دارایی‌ها و درآمدهای بین‌الملل تأثیر بگذارد. شرکت‌های چند ملیتی به ویژه در معرض این نوع ریسك قرار دارند.

مدیریت خطرات مالی یکی از جنبه‌های حیاتی هر کسب‌وکار و سازمان است. شناسایی و مدیریت ریسك‌های مالی امری ضروری برای هر کسب وکار و سرمایه‌گذار است. با درك دقیق انواع ریسك‌ها و استفاده از ابزارهای مناسب مدیریت ریسك، می‌توان به بهبود تصمیم‌گیری‌های مالی و کاهش احتمال ضرر کمك کرد. امارت اسلامی افغانستان برای مدیریت ریسك‌های مالی در شرایط خاص اقتصادی و سیاسی کشور به‌منظور تقویت نظام مالی و اقتصادی، ایجاد ثبات و کاهش ریسك‌های مالی، با شناسایی به موقع آن، آموزش و توانمند سازی (برگزاری دوره های آموزشی برای کارمندان بخش مالی) و ارتقای آگاهی سطح عمومی در مورد اهمیت ریسك مالی و قوانین مالیاتی، مدیریت نقدینگی (کنترول پول و پشتیبانی از بانك ها) توسعه زیرساخت های اقتصادی (سرمایه گذاری در پروژه های زیربنایی)، تشویق سرمایه گذاری، استفاده از تکنالوژی لازم و نظارت مستمر به این امر نائل آمده است.

با احترام


اداره

# د روان کال په (۱۰) میاشتو کي زرګونه بې اسناده موټرونه ثبت او محصول سوي دي



د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د پرېکړې او د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د حکم له مخې د افغانستان لاس بې اسناده (يو کيلي) موټرونو د ثبت او محصول پروسه، چې د (۱۴۰۳) هـ.ل کال تر پايه تمديد سوې ده؛ تر دې دمه د هيواد په لويو ګمرکونو کې په عادي ډول روانه ده. د ماليې وزارت له لوري د (کابل، هرات، بلخ، ننګرهار، کندهار، کندوز او خوست/ پکتيا) په ګمرکونو د بې اسناده موټرونو د طی مراحلو په موخه واحد کاري مرکزونه جوړ سوي دي، چې په ترڅ کې ئې د روان کال په لومړيو لسو مياشتو؛ (د ورې مياشتي له لومړۍ نېټې څخه د مرغومي مياشتي تر وروستۍ نېټې پوري) زرګونه بې اسناده موټرونه ثبت او محصول سوي دي. همدارنګه د افغانستان لاس (يو کيلي) موټرونو د ثبت او محصول په پروسه کې د خلکو اقتصادي وضعيت هم په پام کې نيول سوی دئ او د موټرونو بېلابېلو ډولونو ته په کتو د پام وړ تخفيفونه ورکړل سوي دي؛ تر څو مالکين په اسانۍ سره خپل وسايط ثبت او محصول کړي. د ماليې وزارت يو ځل بيا د بې اسناده موټرونو له څښتنانو څخه غوښتنه کوي، چې له دغه فرصت څخه په ګټې اخيستني سره خپلو موټرونو ته قانوني اسناد جوړ کړي؛ تر څو په راتلونکي کې له ستونزو سره مخ نه سي او هم د ملي عوايدو د تېښتي مخه ونيسي.

## د بوديجوي واحدونو مالي مسئولينو ته روزنيز پروګرام جوړ سو






د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د وزارتونو او خپلواکو ادارو د بوديجوي واحدونو مالي مسئولينو ته په مالي او حسابي برخو کې روزنيز پروګرام جوړ کړ. په هغه ناسته کې، چې په همدې مناسبت په کابل پوهنتون کې جوړه سوې وه، د ماليې وزارت مالي معين حاجی عبدالقدير احمد، د کابل پوهنتون د محصلينو چارو معاون استاد صلاح الدين ايوبي، د بوديجوی واحدونو مالي مسئولينو او يو شمېر نورو کسانو ګډون کړی وو. د ماليې وزارت مالي معين په خپلو خبرو کې وويل، چې په دغه شان غونډو کې ګډون کولای سي مهارتونو ته وده ورکړي. د چارو مخته وړلو له پاره مسلکي مهارتونو ته وده ورکول ډېر اړين دي. له دې پرګرام څخه ګټه واخلئ خپل ظرفيتونه لوړ او خلاوي ډکي کړئ. د کابل پوهنتون د محصلينو چارو معاون وويل، چې حالات بدلېږي او په اوسنۍ نړۍ کې مسلکي زده کړو ته خاصه پاملرنه سوې ده. په حقيقت کې دا ډول زده کړي د بشري سرچينو مسلکي روزني او د خدمتونو د کيفيت ښه کولو له پاره يوه اړينه وسيله بلل کېږي؛ نو له دې پرګرام څخه په ګټې اخيستو سره هڅه وکړئ خپل مسلکي ظرفيت لوړ کړئ او در سپارل سوي چاري په سمه توګه مخته يوسئ. د يادوني وړ ده، چې دغه پروګرام به (۱۵) ورځې دوام وکړي، چې په هغه کې به ګډونوالو ته د مالي چارو اصول او د ملي بوديجې د اجراء اصول، د تداركاتو قانون او کړنلاره، د ارزښتمنو اسنادو د اجراء څرنګوالی، فورمه جاتو، نقدي او جنسي کنټرول، د معاشاتو او مصارفاتي حوالو ترتيب، د معاشاتو د بانکي کولو سيستم، د قطعيې د ترتيب او طی مراحلو څرنګوالی او يو شمېر نور اړين موضوعات تشريح سي.



د اداري معينيت د رياستونو تر منځ د مؤثريت، ښه والي او همغږۍ په موخه نوبتي ناسته وسوه

م ۲




د ګمرکونو او عوايدو معين خوست او پکتيا ولايتونو ته سفر وکړ

م ۲



د ګمرکونو لوی رياست له پاره نوی پنځه کلن ستراتيژيک پلان جوړېږي

م ۲





د وزارتونو او امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه

م ۲



له پرمختللیو هيوادونو سره د افغانستان سوداګريزي اړيکي

م ۳



اُزبکستان او افغانستان د «ترانس – افغان» رېل پټلۍ پروژې د چټکتيا په اړه بحث وکړ

م ٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

## د اداري معينيت د رياستونو تر منځ د مؤثريت، ښه والي او همغږۍ په موخه نوبتي ناسته وسوه

د ماليې وزارت د اداري معين مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ د اداري معينيت د رياستونو ترمنځ د مؤثريت، ښه والي او همغږۍ رامنځته کولو په موخه د رهبرۍ پلاوي ناسته وسوه، چې يو شمېر رئيسانو ګډون پکښې کړی وو. لومړی د تېري ناستي لنډ راپور وړاندي سو، ورپسې پر ټاکلي وخت د اجراآتو د راپور وړاندي کولو، په هره مياشت کي د رهبرۍ پلاوي د ناستي ترسره کولو، د دولتي املاکو له پاره د يوه سيستم جوړولو او د ماليې وزارت له نورو سيستمونو سره ئې



په نښلولو، د اوبو د ټانکرونو نصبولو، د تدارکاتي پروسو ښه کولو، د نساجي فابريکې د قرارداد او د دغې فابريکې د ستونزو د دايمي حل لارو په موخه د طرحي جوړولو، د مراجعينو د غوره اړيکو د تنظيم او کارکوونکو د کاري مودې په موخه د يوه ميکانيزم پر جوړولو بحث او اړيني پرېکړي وسوې. د اداري معينيت رياستونو ذکر سويو موضوعاتو ته د رسېدو په موخه ډاډ ورکړ او يو ځل بيا ئې له ماليې وزارت سره په خپله همکارۍ، ملاتړ او پر وخت او اغېزمنه توګه د خدمتونو په وړاندي کولو ټينګار وکړ.

## د ګمرکونو او عوايدو معين خوست او پکتيا ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد، خوست او پکتيا ولايتونو ته د خپل رسمي سفر په ترځ کي د يادو ولايتونو له مستوفيتونو او د خوست ولايت له ګمرک څخه ليدنه وکړه او اړوندو مسئولينو ته ئې د چارو د غوره ترسره کولو، لا روڼتيا رامنځته کولو، پر وخت سره د مراجعينو ستونزو ته د رسېدو او نورو اړينو برخو کي سپارښتني وکړې. د ګمرکونو او عوايدو معين په دې سفر کي، په جلا توګه د خوست ولايت له والي الحاج مولوي عبدالقيوم روحاني او د پکتيا ولايت له والي الحاج ملا مهرالله حماد سره هم وکتل او په اړوندو چارو کي ئې د لا همغږۍ په رامنځته کولو خبري وکړې. د ګمرکونو او عوايدو معين، همداراز د خپل سفر په ترځ کي محمد داؤد ايوبي د خوست ګمرک د نوي سرپرست رئيس په توګه د دغه ګمرک کارکوونکو ته ور وپېژانده. د يادوني وړ ده، چې د ګمرکونو او عوايدو معين له دې وړاندي هم، د ولايتي مستوفيتونو او د ګمرکونو چاري له نږدې ارزولي او د هيوادوالو د ستونزو اورېدو په موخه ئې بېلابېلو ولايتونو ته سفرونه کړي، چې دا لړۍ به په راتلونکي کي هم دوام ولري.




## د ګمرکونو لوی رياست له پاره نوی پنځه کلن ستراتيژيک پلان جوړېږي

د ګمرکونو لوی رياست له پاره د پنځه کلن ستراتيژيک پلان جوړولو د کاري تګلاري ناسته د ګمرکونو لوی رئيس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د ګمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کي وسوه. په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی رياست تخنيکي او عملياتي مرستيالانو، رئيسانو، يو شمېر آمرينو او پر ليکه د ولايتي ګمرکونو مسؤلينو ګډون کړی وو. په پيل کي د ګمرکونو لوی رئيس د دې رياست د ستراتيژيک پنځه کلن پلان پر ارزښت خبري وکړې او ټولو مسئولينو ته ئې سپارښتنه وکړه، چې د ياد پلان په جوړونه کي پوره همکاري وکړي. همدارنګه په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی رياست د پلان، پاليسۍ، څارني او ارزوني رياست له لوري د ياد پلان جوړولو د کاري تګلاري په اړه هر اړخيز معلوماتي پريزينټېشن وړاندي سو. د ناستي ګډونوالو د ياد کاري پلان او کاري کمېټې په اړه هر اړخيز بحث وکړ او په اړه ئې لازمي پرېکړي وسوې. د يادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رياست پنځه کلن ستراتيژيک پلان به د روان مالي کال تر پايه وروستی سي او د منظورۍ له پاره به د ماليې وزارت له درانه مقام سره شريک سي.



## نشست هماهنگی میان وزارتخانه ها و ادارات امارتی دایر گردید

نشست مشترک هماهنگی میان وزارتخانه ها و ادارات امارتی تحت ریاست مولوی حافظ شاه حسین حسینی رئیس عمومی عواید وزارت مالیه دایر گردید. در آغاز این نشست رئیس عمومی عواید راجع به اهمیت عواید و تمویل بودجه ملی صحبت نموده و گفت: به هر اندازه که عواید افزایش یابد به همان اندازه کشور پیشرفت خواهد نمود و خدمات بهتر به هموطنان ارائه خواهد گردید. در جریان این نشست نماینده ریاست پلان عواید، تحقیق و نظارت راپور وضعیت عواید وزارتخانه ها و ادارات امارتی را از آغاز سال روان ماه




حمل الی اخر ماه جدی را ارائه نمود و به همین ترتیب نماینده ریاست بودجه ملی نیز در مورد مصارفات و بودجه انکشافی وزارتخانه ها و ادارات امارتی در این معیاد معلومات کامل ارائه کرد. همچنان در مورد وضعیت عوایدی، فرصتها و مشکلات با نمایندگان وزارتخانه ها و ادارات امارتی بحث صورت گرفت و تاکید شد، که تطبیق پروژه های انکشافی برای پیشرفت کشور نهایت موثر پنداشته میشود. در پایان، ریاست های اقتصاد بزرگ، خزاین، زیربنا و بودجه ملی هدایت لازم راجع به ترتیب پلان بودجه و مصارفات به نمایندگان وزارتخانه ها و ادارات امارتی نمودند.

## د کندهار ګمرک رئيس د تازه مېوو له واردوونکو سوداګرو سره وکتل

د کندهار ګمرک رئيس الحاج مولوي سفر محمد سحر په خپل کاري دفتر کي د تازه مېوو له واردوونکو يو شمېر سوداګرو سره وليدل او د هغوی ستونزي او غوښتني ئې واورېدې. په پيل کي يادو سوداګرو د ګمرکي طی مراحلو، بانکونو، د قاچاق د مخنيوي او په يو شمېر نورو برخو کي خپلي ستونزي د کندهار ګمرک له رئيس سره شريکي کړې. د کندهار ګمرک رئيس دوی ته ډاډ ورکړ، چې سته امکاناتو او اصولو ته په کتو سره به د دوی ستونزو ته ژر تر ژره رسېدنه وسي. د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست رهبري تل د ولايتي ګمرکونو مسئولينو ته د هيوادوالو په ځانګړي ډول د سوداګرو د ستونزو اورېدو او هغوی ته د اصولو په رڼا کي د مناسبو حل لارو د پيدا کولو سپارښتني کړي دي.




## تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي نږدې ۱۳٦ زره کيلو ګرامه قاچاقي توکي نيول سوي دي




د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نيمروز، کندهار، فراه، هرات، ننګرهار او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي (۱۳۵) زره (۷۷۴) کيلو ګرامه قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کي (٦٤۹۸۷) کيلو ګرامه چاکلېټ، (۲۷۸٤۰) کيلو ګرامه ګوړه، (۱٤۷۹۰) کيلو ګرامه کينو، (٤۹۲۰) کيلو ګرامه لوبيا، (۵۸٤۰) کيلو ګرامه رُب، (۲۹۱۸) کيلو ګرامه انساني او زراعتي درمل، (۲٤۰۰) کيلو ګرامه رخت باب، (۱٦۲۵) کيلو ګرامه پلاستيک او پلاستيکي کڅوړې، (۵۷۰) کيلو ګرامه د ماشومانو وچې شيدې، (۳۷۸) کيلو ګرامه پاکټي کوچ، (۳۸۷) کيلو ګرامه مکروني، (۷۵۰) کيلو ګرامه خام نخود، (۷۰۷۰) کيلو ګرامه د کارټن کاغذ، (۵۲۰) کيلو ګرامه تنباکو، (۵۰٤) کيلو ګرامه اچار او (۲۵۰) کيلو ګرامه بيسکوټ شامل دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي ګرځنده څارني کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د مرکزي املاکو رئيس او ورسره مل پلاوي د بګراميو نساجي له فابريکې څخه ليدنه وکړه



د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی رياست د مرکزي املاکو د څارني او ساتني رئيس انجنير عبداللطيف خالد او ورسره مل پلاوي د بګراميو نساجي فابريکې اړوند صنعتي شرکتونو او د املاکو لوی رياست له لوري په قرارداد ورکړل سويو صنعتي فابريکو څخه ليدنه وکړه. د دغي ليدني په ترځ کي ياد پلاوي د فابريکو پر ښې ساتني او د قراردادونو پر غوره تطبيق ټينګار وکړ او د يادو فابريکو د مستأجرينو او کارکوونکو ستونزي او غوښتني ئې هم واورېدې. ياد پلاوي ژمنه وکړه، چې د دغو فابريکو د لا ډېر پرمختګ په موخه به د دوی اړيني غوښتني او ستونزي له اړونده چارواکو او مسئولينو سره شريکي کړي. د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی رياست د کره املاکي ارقامو او احصائيې راټولولو، په هيواد کي دننه او بهر د ماليې وزارت اړوند غير منقولو جايدادونو د ثبت او اجاره ورکولو او د اسنادو له مخي د دولت او ولس ترمنځ د املاکي شخړو د حل مسئوليت په غاړه لري.

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# له پرمختللیو هیوادونو سره د افغانستان سوداګریزي اړیکي

فضل احمد (یوسفزی)

له پرمختللیو هیوادونو سره د افغانستان سوداګریزي اړیکي د دغه هیواد د اقتصادي ودي او دوامداري پراختیا له پاره مهم عامل بلل کېږي. دا اړیکي کولای سي د پانګوني، سوداګرۍ او ټکنالوژۍ د لېږد له پاره نوي فرصتونه برابر کړي. افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت او بډایه طبیعي زېرمو له امله له پرمختللو هیوادونو سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره ډېر امکانات لري. افغانستان د زعفرانو، مېوو او مغز لرونکو د مهم تولیدوونکي هیواد په توګه پېژندل کېږي، چي دا محصولات د پرمختللیو هیوادونو بازارونو ته صادرېږي. کرنه د افغانستان د اقتصاد له مهمو ستنو څخه ده او دغه هیواد د خپل اقلیمي بدلون او مناسبي خاوري له امله بېلابېل محصولات تولیدوي. کرنیز محصولات نه یوازې د کورنیو اړتیاوو په پوره کولو کي مرسته کوي؛ بلکي نړیوالو بازارونو ته په ځانګړې توګه پرمختللیو هیوادونو ته د صادراتو لوړ ظرفیت لري. افغانستان د مسو، طلا، ډبرو سکرو، لاجوردو، زمردو، مرمرو او لیتیم په ګډون بډایه کاني زېرمي لري، چي د بهرنیو پانګوالو پام ځان ته را اړولی سي. افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دئ، چي د کاني زېرمو له پلوه بډایه هیواد دئ، ډېري طبیعي زېرمي لري، چي کولای سي د هیواد په اقتصادي وده او دوامداره پرمختګ کي مهم رول ولوبوي. په دې منابعو کي ارزښتناك او مختلف مینرالونه شامل دي، چي د پانګوني په جلبولو، د کار پیدا کولو او صادراتو په زیاتولو کي مرسته کولای سي. له پرمختللو هیوادونو سره د سوداګریزو او اقتصادي تړونونو رامنځته کول به د سوداګرۍ اسانتیا او د پانګوني په راجلبولو کي مرسته وکړي. سوداګریز تړونونه د نړیوالي سوداګرۍ د اسانتیا او د هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا لپاره د مهمو وسیلو په توګه پېژندل کېږي. د افغانستان له پاره، د سوداګریزو تړونونو پراختیا کولای سي د اقتصادي وضعیت په ښه کولو، د صادراتو په زیاتولو او د بهرنۍ پانګوني په راجلبولو کي مرسته وکړي. د ټرانسپورټ او مخابراتو په زېربنا کي پانګونه کولی سي د سوداګرۍ د پروسې ښه کولو او لګښتونو په کمولو کي مرسته وکړي. زېربنا د تأسیساتو او سیستمونو ټولګي ته اشاره کوي، چي د یوه هیواد د اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو ملاتړ له پاره اړین دي. د زېربنا پیاوړتیا د دوامداره پرمختګ او اقتصادي ودي له پاره د کلیدي فکتور په توګه پېژندل کېږي. له پرمختللو هیوادونو سره د افغانستان سوداګریزي اړیکي د ودي او پرمختګ له پاره ستر ظرفیت لري، خو دې موخې ته د رسېدو له پاره د شته ننګونو د حل او له مناسبو فرصتونو ګټه اخیستل اړین دي.



د پانګي اچوني له پاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو، د زېربناوو پیاوړتیا او د سوداګریزو تړونونو له پراختیا سره دا ممکنه ده، چي د سوداګریزو اړیکو ښه والی او په پایله کي دوامداره اقتصادي وده ترلاسه سي. دا اړیکي به نه یوازې د افغانستان د اقتصادي اړتیاوو په پوره کولو کي مرسته وکړي؛ بلکي د خلکو د ټولنیز وضعیت او د ژوند د کیفیت د ښه والي لامل به وګرځي. د سیمي له هیوادونو سره د سوداګریزو اړیکو پراخول او د سوداګرۍ له لاري د سیمي نښلول د افغانستان اسلامي امارت د بهرني (اقتصاد محوره) سیاست په سر کي ځای لري. د زعفرانو، تازه مېوو او وچو مېوو د تولید له پاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول، د کرني وده، د کانونو د استخراج د تړونونو لاسلیکول، له پرمختللیو هیوادونو سره سوداګریز او اقتصادي تړونونه، د خصوصي سکټور د پانګوني هڅول، د ټرانسپورټ په زېربناوو کي پانګونه، تجارت او ټرانزیټ، د سوداګرۍ په بهیر کي اسانتیاوي برابرول، د عصري زېربناوو رامنځته کول او په سیستم کي خوندي چاپېریال او روڼتیا چمتو کول د افغانستان اسلامي امارت د فعال اقتصاد محوره سیاست له ښکاره بېلګو څخه شمېرلای سو، چي په دې برخو کي ئې عملي اقدامات هم ترسره کړي دي.

# اعلانات داوطلبی

## د مزایدې خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ (۵) ناحیې اړوند په کوټه سنګي کي د نظیف مارکېټ (۴) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له لاري د (۱) کال له پاره اعلان ته وړاندي کړي.

۱. د کابل ښاروالۍ (۵) مې ناحیه اړوند د نظیف مارکېټ یو باب (B۷۱) نمبر دوکان چي (۱۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۹۱۰۰) افغانۍ ده.

۲. د کابل ښاروالۍ (۵) مې ناحیه اړوند د نظیف مارکېټ یو باب (B٦٦) نمبر دوکان چي (۱۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦٠٠٠) افغانۍ ده.

۳. د کابل ښاروالۍ (۵) مې ناحیه اړوند د نظیف مارکېټ یو باب (B٤۹) نمبر دوکان چي (۳) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۲۵٠) افغانۍ ده.

٤. د کابل ښاروالۍ (۵) مې ناحیه اړوند د نظیف مارکېټ یو باب (B۸۲-۸۳-۸٤-۸۵) نمبر دوکان چي (۷۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵٦۵۵٠) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,۵۱۵۲۷۲-٦۹,۱۱۷٤٦

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱٤٠۳/ سلواغې/ ٠۸) څخه وروسته تر (۱٤٠۳/ سلواغې/۲۱) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱٤) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱٤٠۳/ سلواغې/ ۲۲) نېټه، د سهار ۱٠:٠٠ بجې.

د اړیکو شمېرې: ٠۲٠۲۹۲٤٦٠۷ -٠۲٠۲۹۲٤٦۲٤

## د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند منډیي کي د ظاهر شاهي مارکېټ (٦) بابه دوکانونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له لاري د (۱) کال له پاره اعلان ته وړاندي کړي.

۱. د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیه اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۲٦) نمبر دوکان چي (۵.۵۱) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳٦٠٠٠) افغانۍ ده.

۲. د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیه اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۹۸) نمبر دوکان چي (۵.۴۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵۱٦۵٠) افغانۍ ده.

۳. د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیه اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۷۱) نمبر دوکان چي (۲.۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۵۲۳٠) افغانۍ ده.

٤. د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیه اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۴۲) نمبر دوکان چي (٦.٦۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٠۵۵٠٠) افغانۍ ده.

۵. د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیه اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۵٠) نمبر دوکان چي (٦.۳۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۱۱۵٠) افغانۍ ده.

٦. د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیه اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ یو باب (۱۳) نمبر دوکان چي (۵.۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵۵۷٦۳) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ۳٤,۵۱۷۱-٦۹,۱۷۷۵٦ هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴٠۳/ سلواغې/ ٠۸) څخه وروسته تر (۱۴٠۳/ سلواغې/۲۸) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴٠۳/ سلواغې/ ۲۹) نېټه، د سهار ۱٠:٠٠ بجې.

د اړیکو شمېرې: ٠۲٠۲۹۲٤٦٠۷ -٠۲٠۲۹۲٤٦۲٤

## اعلان مزایده

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه (۳) باب دوکاکین واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت مربوط ناحیه اول ویك باب دوکان واقع لیسه مریم مربوط ناحیه ۱۱ شاروالی کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه برای مدت ( ۱ ) سال به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. یک باب دوکان نمبر ۱۹ به مساحت ۷,۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٦۵٠٠٠ ) افغانی.

۲. یك باب دوکان نمبر ۲٠ به مساحت ۱٤,٠٤ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٦۵۵٠٠ ) افغانی.

۳. یک باب دوکان نمبر ۷٦ به مساحت ۵,٦٠۷ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۳٠٠٠ ) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ - ۳٤,۵۱۷۱

٤. یک باب دوکان نمبر٤ به مساحت ۱۸,۵ مترمربع واقع لیسه مریم مربوط مغازه نمبر ۱٠ ناحیه ۱۱ شهرکابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۷۸٠٠٠ ) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۳۸۹۸ - ۳٤,۵۷۸۹۲

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشندمیتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ(۸ دلو ۱٤٠۳ الی ۱٤ دلو ۱٤٠۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس :سینما پامیر تعمیر ۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزي.

شماره تماس-٠۲٠۲۹۲٤٦۲٤-٠۲٠۲۹۲٤٦٠۷.

مجلس داوطلبی مزایده تاریخ ۱۵ دلو ۱٤٠۳ به ساعت(۱٠:٠٠قبل از ظهر برگزار میگردد.

SHTAMANI
شتمني
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# Thousands of Undocumented Vehicles Registered, Taxed in 10 Months of 1403



According to the decision of the Cabinet of IEA and the order of HH Amir-Almomineen (may Allah protect him), the registration and customs taxation process of undocumented vehicles in Afghanistan that has been extended until the end of the year 1403, is currently underway at major customs offices of Afghanistan. MoF has established some sort of units at the customs offices of Kabul, Herat, Balkh, Nangarhar, Kandahar, Kunduz and Khost/Paktia to process undocumented vehicles, during which thousands of undocumented vehicles have been registered and taxed in the first 10 months of current year that was started form 20/ March - 19/ January/ 2024. Nevertheless, the economic situation of Afghan nation has also been taken into account in the registration and tax process of undocumented vehicles in Afghanistan and significant discount has been made for the different types of vehicles; therefore owners can easily register and pay taxes on their vehicles. MoF once again urges owners of unregistered vehicles to take advantage of this opportunity to obtain documents for their vehicles, so that they do not face problems in the future and also prevent the evasion of national revenues.

# DM of Customs, Revenues to Create New '5-year Strategic Plan' for 'General Directorate of Customs'


Working policy meeting affiliated with the creating of a 'five-year strategic plan' for the General Directorate of Customs was convened in the meeting hall of the Deputy Ministry for Customs and Revenues under the chairmanship of the General Director of Customs, Maulawi Mohammad Hamid Ahmad. The meeting was attended by the technical and operational assistants, directors, a number of sub-directors, and also some provincial customs official joined the meeting online. At the beginning, the General Director of Customs spoke about the importance of the five-year strategic plan of this directorate, and recommended all officials to fully cooperate in the development of the said plan. Also, in this meeting, a comprehensive information presentation was given by the 'Directorate Planning, Policy, Monitoring and Evaluation of the General Directorate of Customs on the working policy for the development of the aforementioned plan. The participants of the meeting discussed this 'working policy' and the 'working committee' in detail, and made necessary decisions on it.



It is worth noting that the 'five-year strategic plan' of the General Directorate of Customs will be finalized by the end of the current fiscal year, and will be submitted to MoF for approval.




# اُزبکستان او افغانستان د «ټرانس – افغان» رېل پټلۍ پروژې د چټکتیا په اړه بحث وکړ



د ټرېنډ – trend په نوم اذري خبري اژانس په یوه راپور کي لیکلي دي، چي د «ټرانس – افغان» اورګاډي پټلۍ په هکله د اُزبکستان د ټرانسپورټ وزیر الهام محکموف او د اسلامي امارت د ټولګټو چارو وزارت معین مولوي محمد اسحاق صاحبزاده په مشرۍ د افغانستان پلاوي ترمنځ په یوه غونډه کي خبري وسوې. وایي دواړو خواوو د «حیرتان - مزار شریف» اورګاډي پټلۍ د عملیاتي چارو او ساتني قرارداد د غځولو له پاره یوې موافقې ته و رسېدل؛ ترڅو د دواړو هیوادونو د اورګاډي پټلۍ د ادارو ترمنځ فعاله همکاري نوره هم پیاوړې سي. ټرېنډ او اُزډَیلي دواړي رسنۍ زیاتوي، چي د سوګډیانا ټرانس اېل اېل سي - Sogdiana Trans LLC په نوم د اُزبکستان د رېل پټلۍ یو فرعي شرکت به د حیرتان - مزار شریف رېل پټلۍ د عملیاتي چارو او ساتني نظارت پر غاړه اخلي. د رېلوې سپلای ـ railway supply په نوم بله رسنۍ بیا «په سیمه ییزه پراختیا کي د ټرانس – افغان رول» تر سرلیک لاندي کاږي، چي ټرانس – افغان پروژه د سیمه ییز نښلون یوه داسي نقطه ده، چي د منځنۍ او سوېلي اسیا تر منځ د سوداګریز لاسرسي زمینه مساعدوي. یادي نړیوالي رسنۍ ئې د ارزښت غورچاڼ داسي اوډي: "په نوې بڼه د ټرانسپورټي/ مواصلاتي لارو رغول د اقتصادي پراختیا او د پوله ییزي همکارۍ د پیاوړتیا له بابته فرصتونه ایجادوي." د اورګاډي دا نوښت د سیمه ییز پرمختګ له پاره ستراتیژیک ارزښت ښیي، کوم چي د اُزبکستان او افغانستان د همکارۍ د ژمنو ټینګار په ګوته کوي. رېلوې سپلای علاوه کوي، چي د زېربناوو په موجودیت سره دواړه هیوادونه موخه لري، چي په سوداګریز ډګر کي ظرفیتونه پراخ کړي. د ټرانس – ا فغان رېل پټلۍ پرمختګ د متقابلي سوکالۍ یو مهم ګام دئ او دا ډول همکاري د ګډو موخو په ترلاسه کولو کي د نړیوالي ملګرتیا د بدلون څرګندویي کوي.

## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چي د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواك آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریك کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (۹۳+)
برېښنالیك: officialcomplaints@mof.gov.af